## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

**«الَّذِينَ قالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزادَهُمْ إِيماناً وَقالُوا حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ»**
[عمران: ۱۷۳]

**ژباړه:** *«هغه کسان چې خلکو (منافقانو) ورته وویل: ستاسو (دښمنانو ستاسو پر ضد لويې لښکرې راغونډې کړې دي)، ورڅخه وويرېږئ. نو د دې په اوریدو یې نور هم ایمان پیاوړی شو او ويې ویل: زموږ لپاره الله سبحانه وتعالی کافي دی او هغه ښه ملاتړی او وکیل دی.»*

### په مصر او لبنان کې د امریکا ظالم اجنټان د حق پر وړاندې ګډه جګړه کوي!

(ژباړه)

کله چې حزب التحرير- ولايه لبنان د فلسطين او په ځانګړې توګه د غزې او رفح ښارونو د خلکو د ملاتړ لپاره په بيروت کې د مصر سفارت مخ ته د حق غږ پورته کول او تظاهرات اعلان کړل، په ښار کې، چې د مسلمانانو ښار دی، امنيتي دستګاه بسيج شوه. د ټولنيزو رسنيو له لارې تر اعلان يو ساعت وروسته يو ارګان پرته له کوم قانوني بنسټ او قضايي پلاوي په بيروت کې د حزب دفتر ته ورغئ او ويې ويل چې د دغه امنيتي ارګان له لوري يادو تظاهراتو ته اجازه نه ورکول کېږي.

موږ د امنيتي نظام پر تړاو پوهېږو، چې په اسلامي خاورو کې د کافر استعمارګر غرب له لوري د خپلو ګټو لپاره رامنځ ته شوي دي. موږ پر پوځونو د غږ له قدرت څخه چې په اسلامي خاورو کې د حزب التحرير له لوري رهبري کېږي، په بشپړه توګه خبر يو. دا غږ د خپل امت او اړوند مسايلو د ملاتړ په موخه کېږي، ځکه چې دغه پوځ د امت بچيان دي او په فلسطين کې د خپلو خلکو په درد يې وينې په جوش راځي او زړونه يې پرې دردېږي، خو دوی په ځنځيرونو تړل شوي او له حرکت څخه راګرځول شوي دي! د مصر د پوځ سرتيري چې څو ورځې وړاندې يې په رفح سيمه کې پر يهوديانو او غاصبينو ډزې وکړې، د دې خبرې غوره بېلګه ده. يهودانو او حکامو هڅه کوله چې خبر پټ کړي، ځکه دوی وېره درلوده چې نور پوځونه د دوی له نېک نيت او صادقانه کړنو څخه خبر نه شي.

هغوی چې موږ او امت ترې کرکه لرو او لعنت پرې وايو، خايين حکام او د هغوی ظالمانه دستګاوې دي؛ الله سبحانه وتعالی خو دې دوی ذليل او رسوا کړي؛ د دوی دنده دا ده چې امت او پوځونه يې له هر مخلصانه عمل څخه راوګرځوي! د دوی دنده د استعمار تر ساتنې پورې محدوده ده! په دغه نظام کې دننه يهودي دولت دی!!

ولې به نه وي، په داسې حال کې چې يهودي دولت د هغو استعماري دولتونو تر څنګ موجود دی چې د وطن په نامه يادېږي؟ ايا د بالفور اعلاميه او د سايکس- پيکو مرزبندي له يوه رحم څخه نه وو زيږېدلي!؟

موږ به په فلسطين کې د خپلو خلکو د دفاع او ان د دغو اجير رژيمونو د بدلون لپاره پر پوځونو له غږ او د هغه څه پر شا نه ځو چې زموږ حقيقي دين يې له موږ څخه غواړي.

د دغه غږ (دعوت) د مخنيوي په اړه د لبناني چارواکو پرېکړې له هغو پرېکړو پرته بل څه نه دي، چې د شيطاني قدرتونو، امريکا د سفارت په ملاتړ صادرې شوې؛ هغه امريکا چې بخپله د ازادۍ ادعا او نړۍ ته يې تبليغ کوي! خو کله چې په امريکا کې دننه محصلينو اقدام وکړ، وځپل شول او ښوونيز او ښکاره حقونه يې غصب شول!

د لبنان چارواکي ليواله وو چې له يهودو سره «د سمندري پولو تعينولو» او وروسته «د ځمکنيو پولو تعينولو» تر نامه لاندې پټې اړيکې يوې پايلې ته ورسوي.

د لبنان حکام د سعودي، مصر، سوريې، ايران او ترکيې له حکامو سره کوم توپير نه لري! دوی ټول د غرب اجنټان او پيروان دي؛ امريکا واک ته رسولي، مشروعيت يې ورکړی، او که يې خلک پر وړاندې اقدام وکړي، ساتي يې! ان که دوی له وحشت څخه ډکه ټولوژنه وکړي، بيا هم لکه څنګه چې ليدل کېږي، احساس شوې او ښکاره ده، امريکا د دوی ساتنه کوي!

موږ حزب التحرير- ولايه لبنان اعلانوو چې د مسلمانانو او په ځانګړې توګه د غزې د مسلې د ملاتړ لپاره به خپلو فعاليتونو ته دوام ورکوو او د مسلمانانو په ځانګړې توګه د مصر پر پوځ غږ کوو چې په غزه کې د خپلو خلکو دفاع وکړي.

د حزب فعاليتونه به نه يوازې په پلازمينه، بلکې په ټول لبنان کې دوام مومي. موږ له دغه فرصت څخه په استفادې پر خلکو غږ کوو چې د خپلې پرېکړې پر مهال د چارواکو تسلط رد کړي. هغه خلک چې په اصل کې دغه ښار ته د اسلام له بندرونو او سواحلو څخه د يوه بندر او ساحل د ساتونکو په توګه راغلي وو، هيڅکله د يهودي دولت ساتونکي نه وو او ان شاالله نه به وي، بلکې د مفسدينو، د دوی د ځواک او وسايلو مخالف به وي.

**د حزب التحرير- ولايه لبنان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ذوالقعدې ۲۲مه**

**۲۰۲۴م کال، د مې ۳۰مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۵ /۱۸**

**ژباړن: اسرار تکل**